بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

علمي چارو معينيت

د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست

اجرائیه عمومي مدیریت

گڼه: ۱۴۷۹

نېټه: ۹/۳/ ۱۴۴۶هـ.ق

مطابق: ۳۱/ ۶/ ۱۴۰۳هـ.ش

خبرتیا  ژر  عادي  بیړني

د............................................ پوهنتون / لوړو زده کړو بنسټ محترم ریاست ته!  متحدالمال

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

**موضوع: افغان نړیوال اسلامي پوهنتون کې (په اکاډمیکو بنسټونو کې د څېړنې پیاوړتیا) تر سرلیک لاندې د ترسره کېدونکې ملي کنفرانس لپاره د مقالو لېږلو د مودې د غځولو په اړه!**

محترما! دافغان نړیوال اسلامي پوهنتون د(۶ – ۳ –۱۴۴۶ هـ ق / ۱۹ – ۶–۱۴۰۳ هـ ش)نېټې د(۱۰۴) گڼه د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست ته په را استول شوي مکتوب کې داسې لیکل شوي:

د څېړنې پیاوړتیا ملی کنفرانس علمي بورد د فیصلې او د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست د شفاهي توافق په اساس د څېړنې پیاوړتیا ملي کنفرانس لپاره د مقالو د لېږلو نېټه تر لاسه کولو موده وغځول شوه. د اړوندو اکاډمیکو بنسټونو، امارتي او خصوصي پوهنتونونو، د څېړنې برخه کې د متخصصیونو، محققینو، استادانو، دولتي او غیر دولتي اداراتو د کنفرانس لپاره د مقالو لېږلو تر ۱۴۰۳/۶/۳۱ هـ ش نېټې پورې د قبلېدو وړ دي. د کنفرانس محورونه او نور اړین معلومات د کنفرانس اعلان پاڼه کې ځای پر ځای شوي چې د دې مکتوب سره ضمیمه دي، تاسو ته د وروستیو کړنو په موخه واستول شو.

د یادونې وړ ده؛ د دې لپاره چې زموږ ډېر حاصل شوی وي له تاسو څخه په خورا درنښت هیله کیږي چې په لیکلې بڼه ډېر راکړئ.

په درنښت

دوکتور حمیدالله مزمل

د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست رئیس

کاپي: د ریاست دفتر محترم مقام ته، د موضوع لېږل د بریښنایي ارشیف له لورې!

کاپي: د نشراتو، اطلاعاتو او عامه اړیکو محترم ریاست ته!

کاپي! د خصوصي پوهنتونونو محترم ریاست ته!

لوړو زده کړو وزارت

افغان نړیوال اسلامي پوهنتون

# خبرتیا

## په اکاډمیکو بنستونو کې د څېړنې پیاوړتیا ملي کنفرانس ته د مقالو بلنلیک د وخت د اوږدیدو په اړه

**سریزه**

تاسو خبرباست چې افغان نړیوال اسلامي پوهنتون په پام کې لري د څېړنو په برخه کې **(په اکاډمیکو بنستونو کې د څېړنې پیاوړتیا)** تر سرلیک لاندې کنفرانس دایر کړي. کنفراس بورد د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست په مشوره غوره وبلله چې کنفرانس ته د مقالو د لنډیزونو د قبلولو موده ۱۵ ورځې یعنې د سنبلې د ۱۵ نه د سنبلې ۳۱ پورې وغځوي. استادان، محققن او د تحقیق د برخې شایقین د خبروي.

**د کنفرانس بنستیز محاور**

- د څېړنې مېتودولوژي ارزښت، ستونزې او د حل لارې چارې
- د کتابتوني، ساحوي او د لابراتواري څېړنو تر سره کولو توپیرونه، اړیکې او د بېلابېلو تګلارو ارزونه
- د څېړنې په پیاوړتیا کې د ټیکنالوژی او پرمختللو وسائلو ونډه او ارزښت
- د څېړنیزو ارقامو د تحلیل، تدقیق او معقولې استفادې لارې چارې
- د څېړنې د اخلاقي اړخ رول او ارزښت
- د ټولنې د اړتیا او لومړیتوبونو پر بنسټ ولاړې څېړنې او په پرمختګ یې اغېزې

**د کنفرانس فرعي محاور**

- په څېړنه کې د مصنوعي زیرکتیا ارزښت، څرنګوالی، ګټې او زیانونه
- په ملي ژبو د تر سره شویو څېړنو ارزښت، اړتیا، ستونزې، ارزونه او د پیاوړتیا لارې چارې
- په شرعي او ټولنیزو علومو کې د څېړنې د مېتودولوژي پیاوړتیا، ستونزې او د حل لارې
- په طبي، روغتیایي او طبیعي علومو کې د څېړنې پر مېتودولوژي پوهېدل، اړتیاوې او پر اقتصادي پرمختګ یې اغېزې
- په افغانستان کې تألیفي، څېړنیزو، علمي مقالو او ژباړنیزو اثارو د پر لیکه کولو ګټې
- د څېړنو په پیاوړتیا کې د کنفراسونو دایرولو او د مقالو خپرولو ارزښت او ونډه
- د څېړنې په پیاوړتیا کې د تېرو لیکنو د مطالعې، تحلیل او تعبیر ارزښت او ونډه

- د څېړنې په پیاوړتیا کې د احصایوي او تحلیلي سافټویرونو، ارزښت او ونډه
- په څېړنه کې د اقتباس ارزښت، ډولونه، د کارونې لارې چارې، ستونزې او حللارې
- د ټولنې او بازار د اړتیا په رڼا کې د څېړنو پیاوړتیا
- په څېړنه کې د کره ارقامو ارزښت او د معلوماتو را ټولولو لارې چارې
- په څېړنه کې د ضمیمو او تعلیقاتو پېژندنه، ارزښت او ستونزې
- په څېړنه کې د علمي تګلارې غوره کولو ارزښت، لاملونه، ستونزې او حللارې
- په څېړنه کې د لارښود استاد مسؤلیت، ستونزې او حللارې
- په څېړنه کې د متغیرونو پېژندنه، ډولونه، ارزښت او د څېړنې په لاسته راوړنو کې یې رول
- په څېړنې کې د مشاهدې، یوښتنلیک او مرکې پېژندنه او د کارونې لارې چارې
- د لیکل شویو تیزسونو اهمیت، ارزیابي، ستونزې او حللارې
- د څېړنې په پیاوړتیا کې د پروپوزل لیکنې ارزښت، ستونزې او حللارې
- د پرتلیزې څېړنې پېژندنه، تیوري او په علومو کې یې د ګټې اخیستنې لارې چارې
- د ټولنیزو ستونزو په حل کې د علمي څېړنو ونډه، ستونزې او حللارې
- په حیاتي او طبي علومو کې د کلینکي ازمایښتونو رول او ونډه
- د څېړنې او څېړونکي اخلاق، اهمیت، ستونزې او حللارې
- د څېړنې په پیاوړتیا کې د نړیوالو مقالو خپرولو ارزښت، د ژورنالونو انتخاب او د اړتیا وړ موضوع غوره کول او نشرول
- د څېړنې په پیاوړتیا کې د ملي او نړی والو کنفرانسونو ونډه او د علمي رتبو او تحصیلي اسنادو تر لاسه کولو لپاره د کنفرانسونو او علمي اثارو د وړاندې کولو تګلارې جوړول
- د څېړنې په پیاوړتیا کې د ملي او نړیوالو ژورنالونو ونډه، د نشر شویو مقالو ارزښت، ستونزې او حللارې
- د څېړنې لپاره خطي نسخې، ارزښت او ارزیابي
- د برېښنایي کتابتونو ارزښت، د استفادې لارې چارې، ستونزې او حللارې
- د علمي ـ ادبي سرقې پېژندنه، ډولونه او د څېړنیز فرهنګ لپاره یې بدې پایلې
- د علمي څېړنو لپاره د پروپوزل ترتیبول.
- د علمي لیکنو پر لیکه کولو ګټې، ستونزې او حللارې
- د کتابتوني، لابراتواري او ساحوي څېړنې ارزښت، توپیر او تړاو
- د مقالو ډولونه، توپیرونه، اړیکې او د علمي مقالو ځانګړنې
- د څېړنیزو سرچینو ارزښت، اول لاس ارقام، د ارقامو مطالعه او د تر لاسه کولو لارې چارې
- د مونوګراف لیکنې، وړاندې کونې او د لارښود استاد مسوٌلیت ستونزې او حللارې
- په څېړنه کې د نمونې اخیستنه، ډولونه، منطق او لارې چارې
- د لوړه زده کړو وزارت په چوکاټ کې د څېړنې لپاره د ماخذ ښودنې د APA, MLA, Chicago, Vancouver, IEEE سبکونو ارزښت، په متن او پای کې یې د ښودنې لارې چارې

CamScanner

## کنفرانس ته د لنډیزونو او مقالو استولو لینکونه

د لنډیزونه او مقالو شریکولو لپاره لاندي ایمل ادرس څخه ګټه پورته کړي

researchconf@ajiu.edu.af

دستونزي سره مخامخ کیدو صورت کې لاندې شمیري سره په اړیکه کې شی.

تلفون شمیره: ۰۷۸۱۶۳۶۱۱۲

## د مقالي لیکلو تګلاره

- **عمومیات**
  - مقاله باید اصلي وي او مخکې بل ځاي نه وي خپره شوي
  - ادبي سرقت څخه پاکه وي
  - ادبي او املایي غلطی ونه لري
- **د څېړنیزې مقالې جوړښت**
  - عنوان
  - لیکونکونومونه او ایمل ادرسونه
  - لنډیز
  - کلیدي کلمې
  - سریزه
  - د څېړنې ستونزې
  - د څېړنې اړتیاوې او ارزښت
  - د څېړنې پوښتنې
  - د څېړنې موخې
  - د څېړنې مخینه
  - د څېړنې کړنلاره
  - د معلوماتو تحلیل
  - د څېړنې اصلي موضوع/ موندنې
  - پایله
  - وړاندیزونه
  - ماخذونه
- د رویو (بیا کتني) مقالي جوړښت
  - عنوان
  - لیکونکو نومونه او ادرسونه
  - لنډیز

- کلیدي کلمې
- سریزه
- ستونزې
- د څېړنې اړتیاوې او ارزښت
- د څېړنې پوښتنې
- د څېړنې موخې
- د څېړنې تاریخي شالید
- د معلوماتو تحلیل
- د څېړنې اصلي موضوع/ موندنې
- پایله
- وړاندیزونه
- ماخذونه

**د مقالو په اړه ځینې لارښوونې**

- د مقالې لنډیز باید ۲۵۰ کلمېو څخه زیات نه وي او د موضـــوع لنډه پېژندنه، اړتیا، ارزښـــت، تګلاره او پایله ولري.
- کلیدي کلمې باید (۵-۷) پورې وي.
- په ملي ژبو د مقالو د خط ډول (Bahij zar) وي.
- په انګلیسي ژبه د مقالو د خط ډول (Times New Roman) وي.
- د ټول متن د خط اندازه (۱۳)، د لوی سرلیک اندازه بولډ (۱۵) او د منځ او څنګ عنوانونه بولډ (۱۴) وي.
- د متن د خطونو تر منځ فاصله (۱،۱۵) وي.
- د مقالې کیفیت ډېر اړین دی، خو د کمیت له مخې له (۸ ـ ۱۶) مخونو پورې وي.
- په متن او پای کې ماخذونه په (APA) سبک وښودل شي. په متن کې د لیکوال خپلې خبرې څرګندې وي او اقتباســونه دې په خپل ځای په منظم ډول راوړل شي. په هرې مقالې کې باید حد اقل له (۱۰) ماخذونو څخه ګټه واخیستل شي.
- شکلونه، جدولونه، دیاګرامونه او تصـویرونه په مناسـب کیفیت سره شتون ولري او په دغې برخې کې متن او نورې برخې د بدلون وړ وي. د هر تصویر، شکل او دیاګرام ماخذونه وښودل شي.
- اصلي موضوع د اصلي بحث محور جوړوي. د مقالې (۶۰٪ ــ ۹۰٪ ) سلنه پورې باید دغه برخه راوړل شي.
- په ورډ کې د مخونو اندازه (۱۷ـ ۲۴) سانتي متره، له څلورو خواوو څخه د ورقو اندازه (۲،۵) سانتي متره وي.

CamScanner